ژورنال بین المللی فرهنگ پوهنتون تخار

Research Article

نویسنده مسوول: خان محمد عزیز
تاریخ دریافت: ۱۴۰۴/ ٦/ ۲۳
تاریخ قبول: ۱۴۰۴/ ۸/ ۱۳
تاریخ نشر: ۱۴۰۴ / ۱۱/ ۳۰

# د ژبې ټولنيز ارزښت

پوهنوال خان محمد عزیز و پوهنمل محمد اعظم عمری
اعضای کادر علمی دیپارتمنت زبان و ادبیات پشتو پوهنتون تخار
ایمیل: khan.azizi@gmail.com

**لنډيز**

موږ له دې موضوع څخه داسې څه لاسته راوړل، چې ژبه او ټولنيز ژوند د ټولنې مهم توکي دي او د ژوند زياتره مسايل پر همدې ژبې باندې حل کېږي او پرته له ژبې څخه په يوه ټولنه کې ژوند کول که نا ممکن نه دي نوګران کاردی. دا يوه جوته خبره ده، چې ژوند، ژبه او ټولنه يو له بل سره تړلې دي او پرته له دې څخه په ژوند کې هيڅ ډول پرمختګ نه رامنځته کيږي، ځکه ژبه د ټولنيز ژوند يو اساس او له اهميت څخه ډک فکتور دی.

ژبه يو اصل دی، ژبنی فرهنګ، ټولنې او وګړي را پېژني. د ژبې شتون په ټولنه کې د وګړو او کايناتو بېلابېلو توکيو ترمنځ بريدنه ټاکي. ژبني مسايل او توکي په نړۍ کې ديو قوم کلتور څرګندوي، د ژبې مرګ ديوه قوم مرګ دی. د ژبې کلتوري ارزښت ته نه کتل، له دنيا سره د اړيکو پرېکون او خاتمه ده ، چې له مخې يې د يوه قوم ارزښتونه، باورونه، فکري او ذهني کچه څرګنديږي. نو ژبه او ټولنيز ژوند يو له بل سره اړيکې لري. موږ نشو کولی، چې ژبه او ټولنيز ژوند سره بېل کړو. ځکه دواړه لازم او ملزوم او ديوه بل متمم دي.

**کليدي کلمې:** اند، ټولنه، دنده، ژبه، ژوند.

## THE SOCIAL VALUE OF LANGUAGE

**Abstract**

From this topic, we have learned that language and social life are essential components of society, and most aspects of life are resolved through language. Without language, living in a society if not impossible is extremely difficult. It is clear that life, language, and society are interconnected, and without this connection, no kind of progress can occur in life, because language is a fundamental and highly significant factor of social life.

Language is a core element; linguistic culture introduces societies and individuals. The presence of language in a society defines the boundaries between individuals and various elements of existence. Linguistic issues and elements reveal the culture of a nation to the world; the death of a language is the death of a nation. Ignoring the cultural value of language means cutting off and ending relations with the world, through which a nation’s values, beliefs, and intellectual and mental level are expressed. Therefore, language and social life are closely connected. We cannot separate language from social life, because both are necessary, inseparable, and complementary to each other.

**Keywords**: thought, society, function, language, life.

**سریزه**

بسم الله الرحمن الرحیم. الحمدالله رب العالمین حمدشاکرین وصلات وسلام علی رسول الانبیای والمرسلین سیدنا ونبینا وشفعناومولانا محمدوعلی آلهِ واصحابه اجمعین.

ژبه یو قوم له بل قوم نه، یو هیواد له بل هیواد نه او یووګړی له بل وګړي نه جلا کوي. دا یو ښکاره خبره ده، چې د یوې سیمې ژبه د موقعیت، کلتور، مذهب، دود دستور، اقتصاد، سیاست او د وخت له پلوه ډېر توپیر لري او دغه لاملونه د همدې سبب کیږي، چې یوه ژبه له بلې ژبې څخه بېله کړي. حتی یوه ټولنه له بلې ټولنې څخه بېله کړي.

ژبه د نورو لاملونو ترڅنګ پرټولنه باندې هم ډېره اغېزه لري. ځکه ژبه، ژوند او ټولنه یو له بل سره تړلې دي. کله چې ټولنه وروسته پاتې یا پر مختللې وي؛ نو ژبه خامخا د همدې ټولنې تر اغېزې لاندې راځي او وروسته پاتې یا پرمختللې کېږي، نو پر دې اساس ویلی شو چې ژبه د ټولنې او ژوند یو مهم اړخ دی. ژبه، ټولنه او ټولنیز ژوند ټول د تاریخ په اوږدوکې له کړکېچنو حالاتو سره مل پرمخ ځي او له همدې برکته له ډېرو نا خوالو سره مخامخېږي، زما په اند په یوه ټولنه کې د انسانانو ترمنځ تر ټولو مهم څیز ژبه ده، چې په همدې ټولنه کې پیدا کېږي، وده مومي، له منځه ځي او له ټولنې سره مستقیم تړاو لري. موږ د همدې ټولنې وګړي یو، باید هڅه وکړو، چې ژبه مو پیاوړې او نړیواله شي. ترڅو یوه متمدنه ژبه ولرو. ځکه د ژبې په پرمختګ او له منځه وړلو کې ټولنه ډېره ونډه لري او همدا ټولنه ده، چې یوې ژبې ته وده ورکوي.

په یوه ټولنه کې د انسان لپاره ترټولو مهم توکي چې په ژوند کې ډېر ارزښت لري، ژبه ده . ژبه د انسان د ټولنیز ژوند د اړیکو یوه مهمه آله ده، چې د هغې له لارې انسانان خپلې ښې او بدې اړیکې جوړوي. یا په بله معنا ژبه یوه تړوني وسیله ده، چې د هغې له لارې کورنۍ او چا پېریال خپلې اړیکې ټینګوي او د خبرو، غږونو او اشارو په واسطه خپل پوهول او را پو هول کوي. ژبه یوه تړوني سیستم دی، چې کورنۍ او چاپېریال د هغې په وسیله تړل کېږي. د دغه تړون موخه د غږ او غوږ په مرسته پوهول او را پوهول جوړوي. ژبه په خپله یوه ټولنیزه پدیده ده چې په یوې ټولنې کې ژوند او وده کوي، مړه کېږي او د تاریخ په لړ کې اوښتون او بدلون مومي.

ژبه تل له ټولنې سره تړلې ده او پرته له ټولنې څخه په هیڅ شمېرل کېږي. همدارنګه د همدې ټولنې او اجتماع سره سم خپل ارزښت پیداکوي او په نړیواله کچه د نړیوالو ژبو په کتار کې دریږي. نو باید هر وګړی د خپلې ژبې لپاره کار وکړي ترڅو د ده ژبه یوه پرمختللې ژبه شي. کله مو چې دا خبره و منله، نو (ژبه او ټولنیز ژوند) ته راځو، خو وړاندې تردې چې ژبه او ټولنیز ژوند و څېړم اړینه بولم، چې لومړی ژبه تعریف کړم چې ژبه څه ته وایي او له ټولنیز ژوند سره یې اړیکې او اغېزې څه دي؟ په دې مقاله کې، چې د ژبې ټولنیز ارزښت ترعنوان لاندې لیکل شوې له مهمو او معتبرو منابعو څخه ګټه اخستل شوې ده او د څېړنې د اصولو له مخې د څېړنې ارزښت، د څېړنې موخې، د څېړنې میتود او د څېړنې پوښتنې په واضح ډول بیان شوي دي.

**د څېړنې ارزښت**

ژبه یوه الهي ورکړه ده چې انسانانو ته الله تعلی ډالۍ کړې ترڅو د هر تېر پېژندنه پرې وشي او د انسانانو ترمنځ د پوهولو او راپوهولو سبب کیږي. له ژبې پرته انسان نیمګړی دی، ځکه انساني پرمختګونه پرته له ژبې ناشوني دي؛ همدا ژبه ده چې انسان یې دژوندانه لوړو پوړیوته رسولی دی .

**د څېړنې موخې**

هره څېړنه دیوې تشې د ډکولو لپاره ترسره کیږي ترڅو هغه نیمګړتیا وې پوره او دحل لاره ورته ومونډل شي. دا څېړنه هم دلاندې موخو په لړلو سره بشپړه شوې:

۱- د ژبې په اړه هر اړخیز معلومات ترلاسه کول.

۲- په ټولنه کې د ژبې ارزښت معلومول.
۳- د ژبې او انساني ژوند ترمنځ اړیکې بیانول.
۴- ژبه انساني کلتور بیانوي.
۵- ژبه په ټولنیزو مسایلو څرخیږي.

**د څېړنې میتود**

میتود هغه کړنلاره ده، چې هر څېړونکی یې د خپلې څېړنې د اسانتیا لپاره کاروي داچې میتودونه ډېر ډولونه لري نو موضوع ته په کتو سره زموږ میتود تشریحي برخه لري او کړن لاره مو کتابتونی ده ، ځکه چې دا موضوع د کتابونو له پلټنې او مطالعې وروسته زموږ د پام وړ وګرځېدله او وموغوښتل چې کار پرې وکړو ترڅو لوستونکو ته نوموړې موضوع روښانه شي.

**د څېړنې پوښتنې**

ژبه څه راز پدیده ګڼل کیږي؟
په ټولنه کې دژبې ارزښت بیان کړئ؟
د ژبې اړیکه له انساني پرمختګونو سره واضح کړئ؟

**ژبه**

د نړۍ ژبپوهانو د ژبې بېلابېل تعریفونه کړي دي؛ خو په ټوله کې د ټولو ژبپوهانو نظریه یوه ده او د پوهولو را پوهولو یوه وسیله یې ګڼي. ژبه د یولړ ټروني غږیزو او اوریزو پیلامو قراردادي غږیز او اوریز سیستم دی، چې وګړي یې د خپلمنځي پوهاوي په پار د خپلو غږیزو غړیو په مرسته اداکوي او مقابل لوری د یو ډول منظم غږ په واسطه پوهوي. نامتو ژبپوه دسوسو وایي:- هغه نظام چې د یوې ژبې د ټولو ویونکو او زده کوونکو له خوا په مشترکه توګه یو ډول زده کیږي؛ ژبه بلل کیږي. دغه ټولیز یا ګډ نظام په ژبنۍ ټولنه کې په هر نوي زېږېدونکي ماشوم باندې په کسبي ډول پلی کېږي او د هغوی پر ذهن ژبه تحملېږي. یا په بله وینا، ژبه د ځانګړو قراردادي نښو یوه ټولګه ده چې هره نښه یې زموږ د یوه ذهني انځور ښکارندویي کوي، داسې چې د هرې نښې له پاره په ذهن کې ځانګړی عیني تصویر لرو. دا انځورونه د انسان مهال او چاپېریال څېزونه، ځانګړتیاوې، پېښواو پدیدو ښکارندیې کوي – وړه او د ویونکي خپل اندونه، خیالونه، هیلې، غوښتنې، موخې، ارمانونه، احساسات، غبرګونونه او نور هر هغه څه رانغاړي، چې په زړه او ذهن کې یې ګرځي-راګرځي او د ویلو او اورولو توقع یې لري. هره نښه یا علامه لکه د کاغذ پاڼه، دوه نه بېلېدونکي مخونه لري چې یو یې غږ، جوله، لفظ او یا ( دال) او بل یې معنی، محتوا او یا (مدلول) او د دغو ( دال او مدلول) ترمنځ تړاو ( دلالت) بلل کیږي. په ربښتینه توګه همدغه دلالت د ژبنۍ نښې قرار دادي والی راجوتوي. د انسانانو ترمنځ د پوهاوي، ښوونې او روزنې، پوهې، فرهنګ او ... په برخه کې تر ژبې بله داسې بشپړه او هر اړ خیزه وسیله یا سیستم نه شته.

نو ځکه وایو چې ژبه یوازې په انسانانو پورې اړه لري، په دې ډول د ژبې پېژندنه داسې را لنډوو: ژبه د انسانانو ترمنځ د پوهاوي او خبراوي یوه ټروني، ټولنیزه او بیاکسبي پدیده ده، چې له یو نسله بل ته په کسبي ډول پاتې کیږي. ژبه د بشري تمدن او کلتور د زنځیر هغه لومړنۍ کړۍ ده، چې نورې کړۍ یې وروسته په ځان پسې نښلولي دي او دا کړۍ د پوهاوي – راپوهاوي په موخه کاریږي چې دانسانانو ترمنځ د یو غږیز، رمزي او ارتباطي نظام حیثیت لري. د ژبې له نظام څخه موخه هغه پدیده ده، چې ژبه له داسې جوړوونکو توکو نه جوړه ده چې هرتوک یې پریو بل باندې متقابلې اغېزې لري. ژبه یو سېمبولیک سیستم دی، سېمبول او نښه په ټولنه کې د څیزونو د څرګندولو دنده لري. همدارنګه وییونه او کلمې هم ځانګړنې، نښې او سېمبولونه دي، چې یوه ټاکلې پدیده، پېښه، نظر او

احساس انځوروي. کلمه د ګڼو او مختلفو غږونو مجموعه ده چې ټاکلې او خپلواکه معنا لري، که په یوه کلمه کې د یو توري او غږ پر ځای بل توری اوغږ وکاروو؛ د کلمې معنا بدلېږي او دکلمې د بنې په بدلون یو نوی ویی را منځته کېږي چې معنوي بدلون په کې هم پیښېږي ( محبوب،۱۳۹۶ل. ص.۲). یا په بل عبارت هغه بېلابېل آوازونه چې موږ یې له خولې څخه باسو که هغه د کمال پړاو ته ورسیږي او په منظمه توګه د یوبل پوهولو را پوهولو لپاره استعمال شي ژبه نومیږي. نو ژبه یوه داسې طریقه او لاره ده چې یو ملت د هغې په وسیله خپل افکار ویلی شي او یایې په لیکلې توګه څرګندوي (رښتین، ۱۳۷۲ل. ص.۵).

**د ژبې د زده کړې لارې**

الف :ـ فطرتي طریقه

دفطرتي طریقې مثال داسې دی لکه، چې یو ماشوم خپله مورنی یا مقامي ژبه په خپله زده کوي:

ب - تدریسي طریقه: دا هغه طریقه ده، چې څوک یوه ژبه د چا اتالیق، استاد یا معلم په مدد زده کوي – دغه قسم ژبې د زده کړې د پاره د وینا طریقه کارولی شي، که څه هم د قواعدو د استعمال ضرورت په کې هم پیښیږي، خو د لیک لوست ژبه د قواعدو او ګرامري فارمولونه بغیر زده کول ګران وي ( هاشمي، ۱۳۹۳ ص. ٦).

په بله وینا ژبه د ارتباطاتو نظم یا سیستم دی. د فکر انتقالونکې ده، د یوه ادبي بیان د څرګندولو وسیله ده، یو ټولنیز بنسټ دی، د سیاسي بحثونو موضوع ده او لنډه داچې د یوه ملت دمنځ ته را تللو اساس او بنسټ ژبه ده د لته تاسو وینئ چې ژبه یوازې د آوازونو او د پو هولو او را پوهولو و سیله نه شوه بلکې د انساني ژوند د تداوم په سلسله کې د ټولو خواوو مینې، کرکې، اتحاد، وروروولي، او نورو ټولنیزو پدیدو بنیاد او اساس هم بلل کیږي (مرهون، ۱۳۹٦. ص. ۱۵).

لنډه دا چې خدای ج انسانانو ته ژبه او د نطق قوه ورکړې ده، چې خپل فکرونه او خیالات یوبل ته بیان کړای شي.

**د ژبې ارزښت**

ژبه د خپل ټولنیز ماهیت او ارزښت له مخې یوه کارنده وسیله ده چې وګړي پرې له یو او بل سره خبرې اترې کوي او په خپلو کې پرې یوبل پوهوي – راپوهوي.

الله تعلی په خپل کلام کې د ژبې د ارزښت په اړه داسې فرمایلي دي: أَلَمْ نَجْعَل لَّهُ عَيْنَيْنِ ﴿8﴾ وَلِسَانًا وَشَفَتَيْنِ ﴿9﴾

ژباړه :- ایا موږ هغه ته دوې سترګې نه دي ورکړي، یوه ژبه او دوې شونډې؟ ( سوره البلد ۸-۹).

ژبه د یوې ټولنې د وګړو د تاریخي، فرهنګي او ټولنیز ارزښت د ساتلو وسیله ده، چې د ټولنې مادي، معنوي، کلتوري، سیاسي اونورې لاسته راوړنې پرې خوندي وي. له یوې ټولنې نه بلې ته دهغوی علمي پرمختګونه او لاسته راوړنې انتقالوي او د راتلونکو نسلونو د علمي پرمختګونو لامل ګرځي. د ژبې په واسطه انسان له طبیعي افاتو، ناورینونو او ضرر رونو څخه د انساني ټولنې او حتا حیواناتو د خوندي ساتلو له پاره لارې – چارې جوړیږي.

**د ژبې دندې**

په ټوله کې ژبه د درېیوو موخو له پاره کارېږي:

۱- د ژبې معلوماتي دنده:- په دې برخه کې د ژبې دنده د اړیکو نیولو، دمعلوماتو شریکول او لېږد – رالېږد شاملېږي.

۲- څر ګندنی دنده:- په دې برخه کې د ویونکي نظریات، احساسات، اخلاق، علمیت او ظرفیت تر اورېدونکي رسېږي او په مقابل کې یې په اورېدونکي، لیدونکي یا لوستونکي کې ورته احساسات را پارېږي او دویم کس داسې انګېري چې په خپله دی لومړی کس دی.

۳- لارښوونکي دنده

د ژبې له دندو څخه يوه مهمه دنده اړيکې پالل او بله مهمه دنده دادراک فعاليت د ی. اړيکه پالل پوهنتون پوهنتون پوهنتون شخصيت رامنځته کوي او ادراک له ټولنې سره د وګړوچلن او سلوک ښيي (ازمون، ۱۴۰۴. ص ۳۱).

په دې برخه کې د ژبې دنده د يوې کړنې او عمل د ترسره کولو يا هم نه ترسره کولو سپارښتنه، لارښوونه او غوښتنه کوي. (محبوب،۱۳۹۶. ص.۴).

**اندو ژبه**

د انسان فکر چې هر ډول وي، د غږيدلو، ليکلو اوانځورولو پروخت هميشه او هرومرو له وييو (کلمو) سره ملګري وي. وييي (کلمې) د اندونو ( فکرونو) مادي استر ګڼل کيږي شعور يوازې د دغه مادي استر په مرسته راتلونکو توکمونو ته د لېږد وړ دی. انسان يوازې دوييونو په مرسته ځولای شي، خپل اندونه او د څيزونو، مادي پديدو، موخو او ليد توګو (آګاهانه) غبرګونونه ثبت کړي، له خپلو همځېلو سره ازمښښت او الواک (نظر) وونجوي، د يوې موخې لپاره پر ټولنيز او ګډ کار لاس پورې کړي او د يوه پښت يېبرى (برياوې) راتلونکي پښت ته ور ولېږدوي. ژبه د ځانخبرۍ يا شعور په وده ، د مجرد او تيوريک اند په را پيداينښت کې ستره اغېزه لري. د ژبې پيداينښت او بشپړتيا چې د انسان ټولنيز کار دی، دانساني شعور له بشپړتيايي بهير سره نه شلېدونکې اړيکي لري. د زېږد کار په بهير کې بشپړ څيزونه او پديدې او ګډ لاملونه (عوامل) خو ځښتونه او اوښتونونه نومولي دي جوت، مجرد جاجونه (مفاهيم) يې منځته راوړي نو په دې توګه يې خپل شعور بډای کړی او بشپړ کړی دی له همدې کبله وايو: ژبه له آره وييونو څخه رغيدلې ده چې هر يو د يوې بهرنۍ غږيزې بڼې او يوې مانيزې منځپانګې لرونکی ده. يوازې تش غږونه له مانا پرته وييي او ژبه کېدای نه شي. د عيني واقعيت انګازه د وييونو په ماناکې موندلای شو او دا مانا د وييي په غږونو کې ځای نيسي او خوندي کېږي؛ د ټولو همژبو وګړو لپاره اړوند وييي ټولنيزه، ټولپوهيزه (عام فهمه) مانا پيدا کوي چې د هغې په وسيله خپلې ګروهې او موخې څرګندوي او نورو ته ليږدوي (زيار،۱۳۸۲. ص.۷). کله ، چې ژبه د فکر کړنه تر بحث لاندې نيول کيږي، نو پکې ډېر غور او پاملرنه پکار ده ځکه ، چې دا يوه فلسفي موضوع ده او پرته له ژورې کتنې يې حل سم نه بريښي، د ځينو نامتو پوهانو له خوا ژبه او شعور، ژبه او تفکر يوشان ګڼل شوي (لودين، ۱۳۹۵ل). ص. ۴۲). فکر موږ ته يوڅه راکوي، دعقل په مرسته يې درکوو او دژبې په مرسته يې بيانوو نو ويلی شو، چې دا يوه الهي ورکړه ده ، چې انسان ته يې ورکړی دی.

**په ټولنه کې د ژبې ارزښت**

انسان ټولنيز ژوند کوي او په ټولنيز ژوند کې خپلې اړتياوې، سلوک او اړيکې د ژبې په واسطه نوروته بيانوي. د همدې ژبې له لارې خپلو ټولنيزو اړيکو ته پراختيا ورکوي. د ژبې د ارزښت په اړه الله تعالی په خپل کلام کې فرمايلي دي:

((وَمَا أَرْسَلْنَا مِن رَّسُولٍ إِلاَّ بِلِسَانِ قَوْمِهِ لِيُبَيِّنَ لَهُمْ فَيُضِلُّ اللّهُ مَن يَشَاءُ وَيَهْدِي مَن يَشَاءُ وَهُوَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ ﴿4﴾)) (ابراهيم: ۴).

موږ ، چې د خپل پيغام رسولو لپاره هرکله کوم پيغمبر لېږلی دی، هغه ته مو دخپل قوم په ژبه پيغام ورکړی دی. ترڅو چې په ښه شان په روښانه توګه هغوی په خبرو پوه کړي. بيا چې د الله چاته خوښه شي ګمراه کوي يې او چاته چې يې خوښه شي سمه لاره ورښيي. هغه برلاسی او دحکمت څښتن دی . ژبه او ټولنيز ژوند د ټولنې دوه مهم توکي دي، چې په يوه ټولنه کې مهمه ونډه لري او د هغې په واسطه خلک پرمختګ کوي. ژبه د يوه ملت او ټولنې جوړونکې ده . پرته له ژبې او ټولنې څخه ګډ ژوند او ټولنيزې اړيکې پرمختګ نشي کولی. نو دا جوته شوه، چې ژبه او انسان يو له بل سره تړلي دي او يو له بل څخه جدا پرمختګ نشي کولی او په ټولنيز ژوند کې ډېرې نيمګړتياوې او پراختياوې د همدې ژبې له لارې رامنځته کيږي. د ټولنپوهنې په يوه اثرکې لولو: « فرد د خلکو د ټوليو په منځ کې استوګنه کوي، له هغوی سره تفاعل ته اړ کېږي او همدغه کار عقلي نشاط، تمدني او فکري نشاط را منځ ته کوي. د خلکو ترمنځ دافکارو د نقل او تفاهم وسيله ژبه ده.

فرد ژبه له خپلې ټولنې څخه زده کوي او له نورو سره یې اړیکې، څواکونه او مهارتونه ډېروي. ژبه پـه ټولنې پورې تړلې ده او ټولنیزه دنده سرته رسوي او چا پېریالونه په یوې ژبې کې د ډېرو لهجو په را منځته کولو کې ښه رول لوبوي. څومره ژبې چې د انسان زده وي په هماغه اندازه به له نورو سره اړیکې لري او له ډېرو خلکو سره به د ټولنیزو اړیکو فرصتونه ورته پیدا کېږي او له دې لارې به یې نورو ته د افکارو په نقلولو کې ښه زمینه برابریږي. په پورتني تعریف کې وویل شول څومره ژبې یې ، چې زده وي په هماغه اندازه به انسان ډېرې اړیکې ولري او خپلې اړتیاوې به په اسانی پوره کولی شي، ځکه ژبه یوه ټولنیزه پدیده ده، نو په دې ترڅ کې په ټولنه کې یوځانګړی ځای لري او د بلې هرې پدیدې په پرتله د انسان او د هغه د ژوند لپاره د اړیکو په نیولو کې مهمه ونډه لوبوي. یعنې پرته له ژبې څخه د ځان او ټولنې په اړه هر کار ناشونی دی. د همدې ژبې له لارې کولی شو د فکر او ټولنې په اړه اړیکې ټینګې کړو. همدا ژبه هر چېرته او هره ټولنه کې د انسانانو ترمنځ د اړیکو او خبرتیاو لامل ګرځي او پرټولنې باندې ډېره اغېزه لري همدا ټولنه ده ، چې انسان یې په انساني چاپېریال کې دې ته اړ ایستی ، چې پرې خبرې وکړي ، چې کله یې خبرې وکړې، نو معنا دا شوه ، چې له انسان او ژبې څخه چاپېریال جوړ شو او انسان په همدغه چاپېریال کې په همدغه ژبه کولی شي د انساني یا ټولنیز چاپېریال له لارې خپله ژبه تقویه او قوي کړي. همدا وګړي دي، چې خپلې ژبې د ټولنیز ژوند له لارې یوبل ته نقلوي او د پرمختګ لامل یې ګرځي.

نو د دې خبرو په اساس وواېو ، چې ژبه او ټولنیز ژوند یو بل سره له بل هرڅه نږدې او نه شلیدونکې اړیکې لري او نشي کولی، چې له یو بل نه پرته پرمختګ وکړي، ځکه ژبه چې هرڅومره پراختیا ومومي د دې ټولو علت همدا ټولنیز ژوند دی، چې سیمه په سیمه، کور په کور او هېواد په هېواد اړیکې جوړوي. یو له بل سره اشنا کیږي او د مختلفو عواملو پر اساس له یوه هېواد څخه بل هېواد ته کډه کول د ژبې د بدلون سبب ګرځي. نو ویلی شو، چې ژبه د ټولو نه مخکې په ټولنیز ژوند پورې تړلې ده او له همدې لارې د ژبې په لغوي ذخیره کې بدلون را منځته کېږي. د ټولنې او ټولنیز ژوند په اړه په ډېرو علمي کتابونو او آثارو کې ډېر تعریفونه او یادونې شوي دي، چې له دې جملې څخه یو هم د آریانا دایرت المعارف د دویمې دورې دوهم ټوک دی، چې د ټولنې او ټولنیز ژوند په اړه داسې په کې راغلي دي: ټولنه د وګړو یوه ډله او مجموعه ده، چې د رواجونو، دود، عادتونو او د ژوند د طرز او فرهنګ له پلوه سره یوشان وي او یا ټولنه هغه بېلابېلې کوچنۍ او راز راز ډلې دي، چې د سن، جنس، اقتصادي او ټولنیزو طبقاتو څخه جوړه شوې وي. په ډېرو لرغونو وختونو او اوسنیو وختونو کې د بشر د تاریخ کتنه دا څرګندوي، چې انسانانو تل په ټولنیزه توګه ژوندکړی دی. انسان ته په ټولنیزه توګه ژوند کول دومره مهم دي، چې پرته له ټولنې او سېدلی نشي. ښایي همدا ټولنیز ژوند د انسان لپاره هغه نښه وي، چې نوموړی یې له حیواني ژوند څخه جلا کړی دی.

ژبه له انسان او ټولنې سره نه شلیدونکي او ټولنیزې اړیکې لري. دا اړیکې له زېږېدونه نیولې تر مرګ پورې دوام لري. ژبه د ژوند هغه مهم توکی یا عنصر دی، چې دهغې په واسطه د یوې ټولنې ټول افکار، کلتور، مذهب، رسم ورواج، سوداګري، آثار، علم، پوهه، اندونه، اړیکې، تاریخ او د ژوند ټول مهم مسایل له یوه نسل نه بل نسل ته لېږدول کیږي. په ټولنیز ژوند کې ژبه ډېره مهمه پدیده ده، که چېرته ژبه نه وي نو دا اړیکې به هم موجودې نه وي او نه شي کولی پرمخ ولاړې شي. همدا ژبه او ټولنه ده، چې دانسانانو ترمنځ قومي، ژبني، ټولنیز، سیاسي، اقتصادي، کلتوري او مذهبي توپیرونه پیدا کوي او د دوی د پېژندنې لامل ګرځي. د همدې ژبې برکت دی، چې یو قوم، ټولنه، کلتور او یو هېواد پېژندلی شو، ځکه د همدې ژبې له لارې کولی شو انسانان له نورو سره پرتله کړو او نړیوالو ته یې معرفي او ورویې پېژنو. ژبه په اصل کې د یوه ملت څېره ده، که چیرته ژبه مړه شوه نو ملت او ټولنه هم مړه شول. که ژبې او ټولنیز ژوند پرمختګ وکړي، نو هم به ملت او هم به ټولنه پرمختګ کوي او په نړیواله کچه د مختیا پر لوري خو ځیږي.

که د ځینو تاریخي، سیاسي، ټولنیزو مسایلو له امله په کوم هېواد کې شخړې او کړ کېچونه رامنځته کېږي او تغییرات په سیمه کې پېښېږي، نو ژبه خامخا بدلون پیدا کوي او یوه نوې بڼه خپلوي. ژبه او ټولنیز ژوند هغه دوه پدیدې دي، چې یوه له بلې جلا نه حسابېږي، کله

چې ټولنیز ژوند او ښتون کوي نو ژبه خامخا ور سره اوړي ، نوې لهجې او کلمات په کې را ننوځي. ژبه د انسان د ژوند یوه لویه برخه ده، چې د ژوند ټول مسایل په ژبه کې را نغښتي دي. نو پردې اساس موږ نشو کولی، چې ژبه او ټولنیز ژوند جلا وګڼو، ځکه ژبه او ټولنیز ژوند یو له بل سره تړلي دي ( نېکیار، ۱۳۹۵. ص .۹۲).

د ژبې پرمختګ د ټولنې له پرمختګ سره تړاو لري کله چې ټولنه پرمخ ځي ژبه هم ورسره پرمختګ کوي او چې کله ټولنه وروسته پاتې کیږي ژبه هم ورسره وروسته پاتې کیږي. ژبه له ټولنیز ژوند سره سمه منځته راغلې ده. داسې چې د ټولنیز کار په بهیر کې لومړی د نغوتو او اشارو او ورپسې د جړو پړو ولولیزو او هیجاني غږونو په بڼه غږېدا پیدا شوې اوبیا له هغو څه د پرله پسې ټولنیزې اړتیا په توګه ژبه منځته راغلې ده. په دې توګه د نړی د بیلابېلو لومړنیو ( ابتدایي) ټولنو ترمنځ بیلابېلې ژبې را رغیدلې دي. په دې مانا چې د نړی ژبې هم د بیلابېلو انساني ټولنو یا توکمونو غوندې یوه ګډه آره (منشا) نه لري. ژبه دانسان د فکري بشپړتیا تر هرڅه زیاته ځلانده او نژدې پیلامه ده. یا په بله وینا، ژبه د پوهاوي را پوهاوي هغه سېمبولیکه غږیزه –اوریزه وسیله یا او زار دی ، چې ودې یې بشر د انسانیت بشپړتیایي پړاو ته را رسولی او دلیګ ایجاد یې بیا د مدنیت او هڅابه پرمختیایي پړاو ته، تردې ، چې تردغه ایجاد ترمخه بشري تاریخ تر تاریخي پېره بهر( ما قبل تاریخ ) بلل کیږي( زیار ،۱۳۸۲. ص.٦).

کله چې ادم علیه السلام الله (ج) د زمکې په مخ خلق کړلو نو دټولو څیزونو نومونه یې وروښودل او دخبرو کولو توان یې ورکړ. ژبه د نښو، پیلامو ( سیمبولو) د یوه غونډال ( سیستم ) په بڼه یوازې انسان پخپله ټولنه کې زده کوي ، چې دهغې په مرسته خپل اندونه ( فکرونه )، غوښتنې، انګېرنې او ننګېرنې ( خیالات او احساسات) نورو همځېلیو ( همنوعانو) ته څرګند کړي او په دې توګه سره د پوهولو او راپوهولو اړیکي وساتي. د همدې له مخې وایوچې: ژبه یوه دنده یې (کسبي)، تړوني (اتفاقي) ټولنیزه او مدني پدیده ده، نه فطري ، طبیعي او عضوي ، چې مخکې له مخکې د انسان په ختڼه کې اخښلې چار اوسي، لکه سهیز، سابیز او وژیز ( هضمي، تنفسي او عصبي) جوړښتونه او د هغو چارونه دا چې موږ د خپلو غړو، لکه د (ژبې، او ریو ،غاښونو ،شونډو، تالو ،ستوني، مری، سږو اوداسې نورو) په وسیله غږیږو او په دې توګه یې غږیز، یا ژبني غږي بولو، دا مانا نه لري ، چې ګوندې دغه غړي له آره د همدې دندې لپاره جوړ شوي دي، بلکې هر یو ځانته جلا – جلا بیولوجیکي او طبیعي دندې لري، لکه خوراک، څښاک، سا اېستنه او داسې نور او ژبنۍ دنده یې څېرمه او ضمني دنده بلل کېږي ( زیار ،۱۳۸۲. ص.۸).

که وکتل شي په ټولنه کې د وګړو ترمنځ نژدې هره نادوده د بدو او بې ځایه خبرو په پایله کې منځ ته راځي، د خپلې ژبې ناسمه کارونه او بې هوده خبرې نه یوازې دا چې ګټه نه لري بلکې د داسې ستونزو لامل کېدای شي ، چې بیا یې جبران کول تر ټوله ستره ستونزه وي ، چې په ترڅ کې یې وګړي په عقیدوي لحاظ هم له کمزورۍ سره مخ کیږي ، چې هم یې په راتلونکې کې په خپل ځان باور له لاسه ورکوي. ژبه او عقل سره لازم او ملزوم دي پرځای خبرې اوسمه ژبه کارونه د ښه عقل نمایندګي کوي یاهم ویلای شو ، چې د عقل ښکلا په ژبه کې ده همدارنګه ژبه د سالم عقل استازیتوب کوي، ژبه نه یوازې دا چې د ورځینیو خوړو په څکلو او سمبالولو کې مرسته کوي بلکې ژوند په مرګ او مرګ په ژوند بدلولای شي، په ټولنه کې په ځانګړي ډول ۸۰ سلنه ښځې د ناسمې ژبې له وجهې ځورولې کیږي. په هره ټولنه کې له طبي درملنې څخه د ژبې درملنې ته زیاته اړتیا لیدل کیږي ، چې باید په اړه یې پوره پوره غور وشي، ژبه هغه غړی دی ، چې په ډېر کم لګښت ډېر کار ورکولی شي، د ژبې کارول ډېر یو اسانه کار ده خو کنترول یې دقوي او هوښیارو خلکو کاردی، ژبه د یوانسان له کړنو او نیت څخه نمایندګي کوي. د هغه چا چې ژبه او زړه په رښتینې رسۍ یوبل سره تړلي وي او خپله ژبه په سمه توګه وکاروي نو دې خلکو ته پوه او بریالي خلک ویلای شو ( راضي، ۱۳۹۳، ص. ۱).

## پایله

ژبه یوه ټولنیزه پدیده ده او دژبې شتون په یوه ټولنه کې لکه په وجود کې د ساه په څېر ده، په یوه ټولنه کې ژبه د بلې هرې پدیدې په پرتله مهمه او اساسي برخه ده او د دې ترڅنګ د اړیکو په برخه کې هم مهمه ونډه لري، یعنې پرته له ژبې څخه یوه ټولنه او ټولنیز ژوند ناشونی ښکاري، ځکه ژبه او ټولنیز ژوند سره تړلې دي او موږ نشو کولی، چې جلا یې و بولوو. ژبه د ټولنیز ژوند د هرې پېښې د څرګندولو لامل ګرځي. پرته له ژبې څخه د ژوند هره برخه نیمګړې ده او ټولنیز ژوند نشي کولی له ژبې پرته پرمختګ وکړي. همدا ژبه ده، چې د یوې ټولنې او ټولنیز ژوند لپاره زده او کارول کېږي او د یوه ټولنیز ژوند ښکارندویي کوي. په دې معنا ژبه او ټولنیز ژوند یو له بل سره ډېرې ژورې او بنسټیزې اړیکې لري او هغه دوه مهم توکي دي، چې دانسان په ژوند کې ډېر مهم رول لوبوي، یو له بله جلا نه ګڼل کېږي او سره تړلې دي.

**ماخذونه**


قرآنکریم

ازمون، لعل پاچا.(۱۴۰۴ل) کولتوري ژبپوهنه.کاناډا: ټورنټو د افاق مجلې اداره.

راضي، محمد نسیم. ( ۱۳۹۳ل ). *ژبه اوکارونه یې*. جلال اباد: مومند خپرندویه ټولنه.

رښتین، صدیق الله.(۱۳۷۲ل). *پښتوګرامر*. پېښور: یو نیور سټي بک ایجنسي.

زیار، مجاور احمد. (۱۳۸۲ل). *پښتو پښویه*. کابل: دانش خپرندویه ټولنه.

ژواک،محمد دین. (۱۳۸۹ل). *پښتو متلونه*. کندهار: صداقت خپرندویه ټولنه.

لودین، دولت محمد. (۱۳۸۵ل). *ژبه اوټولنه*. جلال اباد: ختیځ خپرندویه ټولنه.

محبوب ، محبوب شاه، (۱۳۹٦ل). *پښتو ژبډود*. جلال اباد: مومند خپرندویه ټولنه.

مرهون، محمود. ( ۱۳۹٦ل). *تاریخي ژبپوهنه*. کابل :کاینات خپرندویه ټولنه.

نېکیار، مینا مسعوده. ( ۱۳۹۵ل). *کابل مجله؛ ۱۱ ګڼه*. کابل: د علومو اکاډمي د ژبو او ادبیاتو مرګز.

هاشمي، سید محي الدین. (۱۳۹۳ل). *د لیکوالی فن*. کابل: میرویس کتاب پلورنځی.